د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپيڅلي نامه

# لوګر Logar

مياشتنۍ خپرونه

د تا سيس کال: ۱۳۸۳ هـ. ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ رياست مياشتنۍ سياسي، علمي، ټولنيزه، ديني او فرهنګي خپرونه


اې مؤمنانو!کله چې د الله(ج) په لار کې دجهاد لپاره ووځئ، نو ښه پلټنه وکړئ (د دوست او دښمن په منځ کې توپير وکړئ) او څوک چې تاسې ته سلام واچوي، هغه ته سمدلاسه مه واياست چې ته مؤمن نه يي، که تاسې د دنيا مال او ګټه غواړئ، نو الله (ج) سره ستاسې لپاره د ولجې (غنيمتونو) ډيرې زياتې شتمنۍ شته .

په همدې تاسو هم واست. بيا الله پرتاسې مهربانه شو ، له همدې امله له غور څخه کار واخلئ تاسې چې څه کوئ الله پرې خبر دی.

دالنساء سوره ۹۴ آيت


پنجشنبه د۱۳۹۹ کال د لړم مياشتې لومړی، د ۲۰۲۰ عيسوي کال د اوکتوبر دويشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۱۶) لومړی کال، شپږمه ګڼه


سرليکنه ...

## دوحه کې مزې؛ په وطن کې جنازې!

دايمي سولې ته د رسيدو او بين الافغاني خبرو اترو د هيله منديو ترڅنګ؛ په هيواد کې د عام ولس وژنه بيسارې ده، موږ دا منو چې په جګړه کې د ښکيلو اړخونو ترمنځ؛ دې اوږدې جګړې ته د پای ټکي ايښودلو لپاره وخت ته اړتيا دی او په څنګ کې ورسره ډيرې قربانۍ او انعطاف پذيرۍ ته .خو دا هم بې انصافي او بې عدالتي دی، چې د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره په هيواد کې د جنازو کتارونه جوړ شي او د وينو لښتي وبهيږي .

سوله ډير سپيڅلي نوم دی او د عملي کيدو لپاره يې مخامخ اړخونه بايد نرم دريځ، سوله ييز ادبيات او له يو شمير غوښتنو تير شي، ترڅو د ولس هغه سترګې چې د دوحې خوا ته ور اوړي ناهيلې نه شي او د جنازو او وينو روان بهير ته تل پاتې د پای ټکی کيښودل شي.

په نړۍ کې که د سولې او جوړجاړي تاريخونه ولوستل شي، په جګړه کې ښکيل يو اړخ ته ټول امتيازات نه ورکول کيږي، يو څه به له لاسه ورکوي او يو څه به لاس ته راوړي، ترڅو د سولې بستر چمتو شي. په دې خاوره د بدبختو څپې ورځ تر بلې د زياتيدو په حال کې دي، په جګړه کې ښکيل اړخ په واک او ځواک کې د شريک کيدو په پام او د خپلې ونډې د غوښنې کيدو له امله وسله والې جګړې او ولس وژنې ته زور ورکړی، چې برخه يې غوښنه شي .

په ورته کړنو او بې عدالتي به د تاريخ تور قضاوتونه کيږي. خو اوس هم لا وختي دی، چې په جګړه کې ښکيل اړخونه خپلو کړنو ته تغير ورکړي او په دې مظلوم ولس باندې رحم وکړي.

راځو دېته له څو مودې راپه دېخوا د دولت او وسلوالو پلاوو لخوا د قطر په دوحې ښار کې خپلمنځي خبرې اترې په دې موخه پيل شوې، چې په هېواد تپل شوې او ناخرګندې جګړې ته دپای ټکی کېښودل شي او د هېوادوالو هيلې چې سوله ده له دغه آرمان څخه برخمن شي .

خو بين الافغاني خبرې پيل شوې او تر اوسه دواړه پلاوي د سولې اصلي اجنډا او نتيجې ته نه دي رسيدلي، کومې خبرې چې د دوحې په ښار کې پيل شوې، ډيری افغانان يې هيله من کړيدي، چې يادې خبرې به هېوادوالو ته هيلي ښونکي پيغام ولري. خو داچې له دغو بين الافغاني خبرو له پيل سره يو خوا د ولس هيلې راژوندۍ شوې او بل لوري ته د جګړو ميدان لا تود شوې، چې ورسره زموږ د ګڼ شمير هېوادوالو ژوند يې اخيستې، چې له دې وضعيته ډيري هېوادوال ځوريږي .

دغه ربړيدلي وضعيت ته په کتو،د ولس په ذهنونو کې ګڼې پوښتنې پيدا شوي، چې په هېوادوالو ولې دغه کړيدلي او ګنګس وضعيت وسلوالو او حکومت راوستلې؟ دا څنګه سوله ده، چې ولس يو لور يې د نېکمرغۍ خواته کش باسي او بل خوا چې کتل کيږي، هغه درديدلي حالت چې افغان ولس ورسره مخ دي او هر ورځ د ځوانانو جنازو ته اوږې ورکړي او جنازې کوي !

دا نو د هېوادوالو بې سارې او غمېزې ستونزې دي، چې ډيری ولسونه يې دردولي دي. په دې پيچلي او سختو ورځو کې زموږ د هېواد ډيري ماشومان له پلرونو پاتې شول، چې راتلونکي يې هم ناخرګند او ځوريدونکي بللی شو، چې هغوی خپلو کورنيو ته حلاله نفقه پيدا کړي، که زده کړې وکړي او د هېوادوالو په چوپړ کې واوسي!؟

دهېواد ناخرګنده جګړه د بهرنيو هېوادونو ګټې پکې خوندي دي، خو زيانونه يې په لېدلو سترګو وينو، ټول ښه پرې پوهيږي، خو بيا دغه کړيدلي وضعيت لپاره د مهار توان يې هېڅ څوک نشي کولی؟ د دغه ناورين پای ته رسول هم آسانه خبره ده، خو چې زموږ دهېواد ټول مشران او مخالفې ډلې و غواړي، دخپلو شخصي ګټو نه تېر شي او ملي ګټو په خونديتوب کې هڅې وکړي، نو بيا دغه د سولې معما په رښتيا بدليدلای شي .

د دواړو لورو مشران دې په دوحې کې له مزو تېر شي، د ټولو افغانانو ګيچ او په هغه بد وضعيت کې چې قرار لري، دغه غمزې دې ورباندې ودروي او ديو سوله ئيز افغانستان د جوړولو په فکر کې واوسي . ځکه دافغانستان وضعيت ورځ تربلې مخ په خرابيدو ده، که همداسې حالات وي، نو د ټولوهېوادوالو انديښنې به لازياتې شي او د پخوا په څير به بهرنيو هېوادونو ته ګډه شي او مسؤليت به يې دواړو لورو ته ور وګرزي، چې څنګه دوی ونه توانېدل ، چې دهېواد د جګړې اور مړ کړي .

اصلي خبره داده، چې دواړه مذاکراتي لوري دې تر خپلې وسې کوښښ وکړي، چې دهېواد او ولس دخيرغوښتنې لپاره دغه ستر ناورين ته دپای ټکی کيږدي او هېوادوالو باندې دسولې راوستو زيری ولوروي .

ترېيا دخدای پامان

مدير

## برای شصت تن محصلين فارغ شده، زمينه کارمساعد می گردد

پل علم باختر 23 ميزان

بيش از شصت تن محصلين ولايت لوگر به تاريخ 23 ميزان طی محفل با شکوهی درتالار شهرداری اين ولايت در حالی فراغت شانرا جشن گرفتند که برخی آنها از نبود کار، به آينده شان نگران اند و والی لوگر به آنان تعهد سپرد که دربست های خالی لوگر، فرصت های کاری را برای آنان فراهم خواهد نمود.





برنامه که بدين مناسبت دايرگرديده بود درآن محمداجمل شاه پور والی لوگر، عبدالرحمن تسل رييس اطلاعات وفرهنگ، جوانان، محصلين وبزرگان قومی اشتراک ورزيده بودند.

محمداجمل شاه پور والی لوگر درجريان صحبت هايش ضمن تبريکی به محصلين گفت که کسب علم موجب سرفرازی، عزت وآبادانی ملت ها می گردد وبايد به جای جنگ وخونريزی به سوی تعليم وحفظ منافع ملی رو آوريم، وی علاوه کرد که جنگ وخشونت چهره واقعی لوگر نيست، بلکه همين فارغين چهره واقعی لوگر هستند.

والی لوگر ازهمه فارغين خواست که برای ترقی وپيشرفت کشور مشترک کار بکنند وبا صفحه تازه زنده گی شان زيور علم، درخانواده واجتماع کوشش نمايند که تغيرات مثبت رونما کنند.

آقای شاه پور وعده سپرد که برای جوانان فارغ شده دربست های خالی ادارات لوگر فرصت های کاری را ايجاد خواهد کرد.

عبدالرحمن تسل رييس اطلاعات وفرهنگ لوگر درسخانش به دانشجويان گفت: محصلين فارغ شده با نيروعلم آراسته هستند وميتوانند درپيشرفت کشورنقش اساسی داشته باشند ، رييس اطلاعات وفرهنگ به آنان وعده سپرد که درکاريابی آنها دوشا دوش شان، تلاش خواهد کرد.

اين دانشجويان در رشته های مختلف آموزشی پوهنتون قندهار و ننگرهار برای مدت چهار سال آموزش ديده اند ، يکتن از فارغين گفت: بسيارزياد خرسند هستم که امروز شاهد جشنواره فراغت خود هستم ، من با وجود آنکه مشکلات زياد اقتصادی داشتم باز هم برای آيند درخشان خود وکشورم درس خواندم، حال از دولت ميخواهم که زمينه کار را برای ما مساعد نمايند.

ولی احمد نماينده محصلين لوگردرپوهنتون قندهار به آژانس باخترگفت که امسال درحدود يکصدو نود ونوتن دانشجويان ازپوهنتون ننگرهاروقندهار از رشته های مختلف تحصيلی فارغ شده اند که شصت تن آنان فراغت شانرا جشن گرفتند.

قابل ياد آوری است که سال گذشته نيز يکصدوبيست تن محصلين لوگر فراغت شانرا از دانشگاه ننگرهار جشن گرفتند اما تا هنوز برخی آنان بيکارهستند وازدولت ميخواهند که برای آنان فرصت های کاری ايجاد گردد.

## نمايشگاه هنر نقاشی در لوگر برگزارشد

نمايشگاه هنر نقاشی به تاريخ 7 ميزان در رياست اطلاعات و فرهنگ لوگر برگزار شد.

اين نمايشگاه به منظور رشد هنرنقاشی و توجه مردم به هنر نقاشی برای يک روزبرگزار شد.

در اين نمايشگاه تابلوهای نقاشی شدۀ ساحات باستانی و آبدات تاريخی هنرمندان به نمايش گذاشته شده بود که از آن ده ها تن ديدن کردند.

به گزارش خبرنگار آژانس باختر، اکثر بازديد کنندگان راه اندازی اين نمايشگاه را در معرفی ساحات تاريخی و باستانی، آبدات تاريخی وتشويق هرچه بيشتر هنرمندان را ارزنده عنوان کردند.

عبدالرحمن تسل رييس اطلاعات و فرهنگ لوگر درصحبتی گفت که علاقه مندان هنرنقاشی در لوگر روبه افزايش است وبا وجودی که به هنرمندان اين رشته توجه خاصی صورت نگرفته است با آن هم هنرمندان ناب اين رشته وجود دارد که تابلوهای گران بهای زيادی در بخش های مختلف از خود برجا گذاشته اند.

وی علاوه کرد که اين رياست می کوشد تا برنامه های بيشتری در عرصه های فرهنگی وادبی برگزار کند.

اين درحالی است که رياست اطلاعات وفرهنگ در کنار نمايشگاه نقاشی در نهادينه شدن فرهنگ مطالعه، مساعدت به نيازمندان لوگر، حمايت از رسانه ها و رشد جوانان برنامه های مختلفی برگزار کرده است.



## دلوګر ولايت د مالي او اداري چارو مرستيال په دنده پيل وکړ



د تلي ۱۲ مه: محمد عمر مرجان د ولايت دمالي او اداري چارو مرستيال په توګه رسماً دنده پيل کړه، هغه مراسم چې د ده دپيژندل ګلوي په موخه نېول شوي ؤ، د لوګر ملکي او نظامي ادارو مسؤلينو سر بيره د سويل ختيځ زون شورا مشرانو، قومي مخورو او ځوانانو ګډون کړي ؤ.

لوګر والي محمد اجمل شاه پور نوي مرستيال ته د مبارکۍ ترڅنګ وويل؛ لوګر يو ستراتيژيک جغرافيايي موقعيت لري، چې تل يې ولسونه په دې خاطر ستونزې ګاللي دي او سمهال ښه فرصتونه په مخکې لرو ترڅو د دې ځوريدلي ولس لپاره ټول په ګډه د قومي مشرانو په همکارۍ کار وکړو، چې يادو موخو ته د رسيدو په لار کې ښه نيتونه او رېښتنولي کولای شي ياد کار شوني کړي.

والي زياته کړه؛ موږ ډېر حساسو حالاتو کې قرار لرو، چې د مشرانو او ولسونو ملاتړ ډېر اړين دی. راځئ چې د دې ولايت د آبادۍ لپاره په ګډه کار وکړو او دښمن پرې نيږدو ترڅو خپلو موخوته ورسيږي.

والي ولسونو ته ډاډ ورکړ، چې د ولايت مقام دروازه تل د دوی پرمخ خلاصه ده هر وخت کولای شي، چې ستونزې او مشورې د ولايت له رهبرۍ سره شريکې کړي.

وروسته قومي مشر او د سويل ختيځ زون د قومونو د يووالي شورا رييس جنرال محمد اسلم مسعود او قومي مشر مدير حسن په وار سره خبرې وکړې. دوی د ولسونو په استازيتوب د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ. يادو مشرانو د ولايت له رهبرۍ څخه د يو لړ ستونزو د حل په برخه کې د کوټلو ګامونو د اوچتولو غوښتنه وکړه.

د ولايت مقام نوي مرستيال محمد عمر مرجان هم په خبرو کې له جمهور رييس او د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې له رييس څخه مننه وکړه، چې د ولسونو د خدمت په پار يې پر ده باور کړی دی. ده زياته کړه؛ زما موخه يوازې ولس ته خدمت کول دي، چې په دې برخه کې به د ولايت له رهبرۍ سره هڅه وکړم ترڅو د دې جنګ ځپلي ولس پر واندې خپل دروند مسوولیت ادا کړم. د ولايت مرستيال له ټولو مخورو څخه غوښتنه وکړه، چې د يووالي او سولې لپاره له ولايتي ادارې سره همکار او همغږي شي، تر څو وکولای شو د خلکو دردونو ته ملهم وګرزو. په پای کې د لوګر والي محمد اجمل شاه پور او نورو مسوولينو لخوا د ولايت مقام نوی مرستيال معرفي او په کار يې پيل وکړ.

**دولايت مقام رسنيز مرکز**

## توجه به بنا های تاريخی وتامين امنيت آن، باعث جلب توجه گردشگران وافزايش عوايد می گردد

ولايت لوگر درجمله ولايات محسوب ميشود که با تاريخ کهن آبده های تاريخی ادوار مختلف وساحات باستانی زيادی را دربستر خود جا داده است واگردرقسمت بازسازی، جلوگيری ازتخريب وتامين امنيت آن رسيده گی بيشترصورت گيرد باعث جلب توجه گردشگران وبلند رفتن عوايد می گردد ، مسوولين دراطلاعات وفرهنگ لوگر هوشدارمی دهند که اکثربناهای تاريخی دراين ولايت روبه فروپاشی وتخريب است واگرتوجه صورت نه گيرد اين داشته های تاريخی ازبين خواهد رفت.

جلات خان سرخابی مديرآبدات تاريخی رياست اطلاعات وفرهنگ لوگر به آژانس باخترگفت که دراين ولايت هشده آبده تاريخی درمرکز وولسوالی های لوگر وجود دارد که پانزده آبده دراثرحوادث طبيعی وجنگ های چندين دهه اخير تخريب شده است که اگر به بازسازی آن توجه جدی صورت نگيرد ازبين خواهد رفت، آقای سرخابی علاوه کرد که آبده تاريخی ملک سبزعلی درحالت بازسازی ازسوی وزارت اطلاعات وفرهنگ است که کارآن بيش از90 درصد پيش رفته است... بقيه در صفحه دوم

ښوونکی ؛ يوه تحفه ده ، د هغه درناوی وکړئ او د والدينو په شان مينه ورسره وکړئ!